# د ملا عبدالسلام عشېزي په شاعري کښې د سامراجي علامتونو((تار، رېلوې، رېډيو او اخبار)) تنقيدي څېړنه

**(Analytical Study Of The Imperialistic Symbols (Tele-Communication, Railway, Radio And Newspaper) In The Poetry Of Mulla Abdul Salam Ashezai)**

نوراحمد فطرت*

عبدالرحمٰن کاکړ*

**Abstract:**

Mullah Abdul Salam Ashezai is one of the prominent poets of Pashto language, resisted British rule in Southern Pashtoon Khwa through his poetry. Being religious scholar and reformer, he had been popular among masses of the region hence his message against the British rule in Southern Pashtoon Khwa had everlasting impacts. The critical approach of Mullah Abdul Salam Ashezai regarding imperialist's missions and goals besides detrimental traditional customs raised his personality to higher ranks. This study focuses his viewpoint regarding the symbols introduced during the reign of imperialism in the region. The writers of this paper strive to unpack the perspective of Mullah Abdul Salam Ashezai in the light of his poetry.

**Key words:** Abdul Salam Ashezai, Pashto Literature, Pashto Poetry, Southern Pashtoon Khwa

د يو قام د پرمخ تګ دپاره دا اړينه ده چې د هغه قام مذهبي عالم، سياست مدار (قبائيلي مشر) او ليکوال به په يوه خوله وي. د اولس د ګټو دپاره به د دوی فکر او نظر يو وي. خو د اولس دپاره ګټه يوائې هغه وخت تر لاسه کولای شي چې په ګډه مبارزه وکړي. په ځانګړي توګه په قبائيلي ټولنو کښې د داسي شخصياتو لوی رول وي او د دوی په مينځ کښې ګډوډي په اولس کښې ګډوډي رامينځ ته کوي چې له سوبه ئې زيان و ټولنه ته رسيږي.

قاضي ملاعبدالسلام عشېزی د خپل وخت لوی عالم، مصلح، شاعر او نامتو ليکوال تېر شوی ؤ چې د نور اولس پرته قبائيلي مشرانو او پوهانو هم په درانه نظر ورته کتل.

په شاعرۍ کښې پر ځيني داسي موضوعاتو باندي قلم پورته کړئ چې د سيمي له کلتور، مذهب او سياست سره نېغ په نېغه اړيکې لري.

* M.Phil. Scholar, Department of Pashto, UOB, Quetta

* Dr. Abdul Rehman Kakar is Lecturer, Department of Pashto, UOB, Quetta

قاضي ملا عبدالسلام په خپله ټوله شاعري کې بېخي زياتو موضوعاتو ته ځاى ورکړى دى په دغهٔ کي ديني (ياني لکه عقيدوي لکه حلال ؤ حرام) ټولنيز، سياسي، مدني، معاشي، اخلاقي، حماسي، عشقي، پښتني بلکې سيمه ايز او بين الميللي سکالووي يې څېړلي او روښانه کړي دي. د بابا په ټل پاته شاعري کښې ازادي خورا زياته ستايل سوې ده دا رنګه بد مرغه غلامي بېخي ډېره غندل سوې ده . پر بابا باندي د افغانستان د خپلواکی ستورى (غازي امان الله خان) د ۱۹۱۹ز.د ده اګست د خپلواکی په وجه دېر ګران ؤ او دده نيکه باچا عبدالرحمن مذمت يې هم په دغه کړى دى چي ده د پښتون افغان د هيواد د وېش غلته لوظنامه د پرنګيانو سره کړې وه لکه چي وايي:

"خانه جوړ وځان ته وکيندى کوهى تا و انګرېز ته ورکـړو پښين ؤ کدنى تا
کاکـــړي ؤ بلوڅـــي ؤ تـــرين واړه پښتون اصل در ده لاندي کی مريـی تا
د يوې ګېډې په حرص عبدالرحـــمانه اســلام واچوى په کـــفر کي نيمـی تا
پښتنې دي ځيني کونډې کړې يا بـوري پر چا ونکړى بې رحمه د زړه سوى تا
پرامير امان الله عبـــدالـــــسلامه ثوني وژړل پـــه ويـــنو لکه نـــى تا " (1)

په عامه ډول په نړۍ کي ده ټولو پيښو او سترو په ځانګړي ډؤل په لوى افغانستان کي د غازي امان الله د ملک بدرى په وجه د قاضي ملا عبدالسلام عشېزي د هر هغهٔ څه څخه نفرت کېدى چي د فرنګيانو له کوا به معريفي سوى ؤ يا به راؤړل سوى ؤ لکه دى چي يو ځاى خپل زاړه خوراک ته هم اشاره کوي بابا فرمايي:

" مــــوږ د مخه د ټاټوکو خوږ بـــګاږ يا ځيږه پوسه اخښلې په سختاږ
بسکوټ چاى ؤ سګرېټ فرنګي راوړ کفر واړول ده لته اســلام ولاړ
خوبان ويا ستو شيطان عبدالســــلامه د يخ باغـــه و ګرمي تـه د اهاړ" (2)

قاضي ملا عبدالسلام نه يوازي داچي د سامراج د ثو نوماندو علامتونو لکه رېل، تار، اخبار، رېډيو وغېره غندنه کړې ده بلکه د دليل پر بنياد (Based on logic) د جديد تعليم، فلسفې ، پتلون، مشينري سکولونو (دا هغهٔ سکولونه ؤ چي په دې کښې به تحريف سوى انجيل درس کېده) حتىٰ د دوى د مېز او کرسى يې هم سخته غندنه کړې ده بابا د فرنګيانو عمارتونه ، د دوى جوړ کړي بازارونه ، کچارۍ، د سيوى د ښار مېله هم تر نظر لاندي ساتلې وه. بابا تصوير يا انځور هم په ډېرو بدو ټکو غندلى دى. نو مخکي تر دې چي زه رېل ، رېډيو ، تار او اخبار ته ورسم لومړى به دېته راسم چي قاضي ملا عبدالسلام بابا فلسفې ، سکول ، انځور ، پتلون ، بابو ، ټنډېل يا سورنګ ، سيوى مېله ، کچارى ، مېز او کرسى ، کاغذ ، ماليه يا ټيکس او نورو ته په خپلو خوږو اشعارو کي ثومره کتنه کړې ده.

مخکې تردې چې د سامراجي علامتونو په هکله خبره وکړو، لومړی به راسم دې ته چې سامراج څه ته وايي؟ د سامراج یا سامراجیت دپاره چې کومه کلمه زیاته مشهوره ده هغه Imperialism ده. یعني په انګلیسي کښې دې ته امپیریلزم وئیل کیږي. د سامراجیت له نورو کړونو پرته یو مرام دا وي چې پردي هیوادونه او د هغه وسایل په زور تر خپل واک لاندې وساتي. سامراج ته استعمار هم وايي چې مطلب يې دی پر یوچا باندې قابض کېدل او هغه له خپله حقه محروموَل او داسې نور.په پښتو کښې چې د سامراج دپاره کومه کلمه مستعمله ده هغه ښکېلاک ده.

ښکېلاک ګر چې کله يو ځای نیسي نو لومړی د هغه پر جغرافیائي حدود قبضه وکړي او وخپلې قبضې ته دوام ورکولو له پاره او د پر کوم ملت چې قبضه کړې وي ، پر هغوی خپله قبضه ته دوام ورکولو دپاره د دوی پر ذهن قبضه کوي. یو ملت ذهني غلام جوړولو له پاره اړینه ده چې داسې کارونه تر سره کړل شي چې هغه قوم يې ومني او و يې ستايي. خو دا کار تر سره کولو له پاره له میډیا ، کلتور ، تعلیمي نظام او نورو څخه کار اخیستل کیږي. د دې ټولو له لارې د اولس داسې روزنه کول چې هغه د قابض قوت په خلاف راپورته نه شي او د دوی غلامي په زړه قبوله کړي. او قابض قوت د قبضه کړل شوي ملت پر کلتور حمله کوي او له درس و تدریس سره تړلو ادارو له لارې ذهني روزنه کوي. په دې ډول یوه داسې ډله راپورته شي چې د دوی تبلیغات کوي خو سامراج د داسې کولو له پاره ځیني داسې ښه کارونه هم کوي چې د هغوی له سوبه دوی ته او د دوی و قبضه ته جواز ورکول کیږي.سلام بابا دا هر څه لیدلي، د هغه پر اساس يې د انګرېزانو پر ځینو هغه څیزونو هم تنقید کړئ کوم چې د اولس په ګټه ؤ. د بېلګې په ډول سلام بابا خو د سکول مخالفت په دې کولی چې په هغوی کښې به د اسلامي عقیدې مخالف نصاب تدریس کېدلی. پر تار، رېلوې، ریډو او اخبار باندې تنقید کولو مخکې راګرځو چې انګرېزانو څنګه د خپل کلتور له لارې د دې سیمي پر ذهنیت حمله کړې او خپل کلتور يې په سهېلې پښتونخوا کښې معارفي کړي دي.

**پتلون** :- قاضي بابا په خپله ټوله شاعري کې د پتلون هم ډېره سخته غندنه کړې ده حالانکه دده ستر محسن او د خپلواکی سمبول غازي امان الله خان او د هغه کورنی یا فامېل هم پتلون اغوستی یا دغه لباس ؤس هم د نړی ډېر مسلمانان کاروي حتی دغه لباس په مکه او مدینه کې هم اغوستل کیږي وغېره بحرحال قاضي بابا په خپله شاعري کې ډېر یاد کړئ دی لکه چې وايي.

" خانه ته څه راز تابع کړې شل ړانده　　فرنګي پړ مخي لاندې کــړې بیـــده
ستا پتلون دي تر پخوا پرتاګه جارسي　　چې په نمانځ جوړېــــدی یا په ګینډه

ښځي لڅي لباس ټوله یو پتلون سو　　ته یوځای پر دنیا وینـــې شریعت سته " (3)

مګر په پای کي قاضي بابا په خپل درانه کتاب "زردانه در " کي د پتلون په حقله د خپلو تولو خبرو څخه اوښتی دی او د پتلون اهمیت یې بلکل تسلیم کړی دی بابا وایي

" که اسلام پالې خـــو ښـــه دی پتـــــلون دوني عېـــب نـــه دی " (4)

**بابو** :-

" که ځوک نه ځیري پښتون خپله غـړکه بیا دې نه شاربې د نورو په خرک
بې ایمانه بابوګان رابانـــدي خانـــدي په ملت د محمـــد ص وهـــي هنک

عمر واړه په سرکار پرستي تیر ســـو د خالق د معـــــرفته سو محروم
سل روپی یا زیات ؤ کم تنـخا به اخلي در هغه بابو بل وړی نـــسته شوم (5)

**ټنډېل** :- ټنډېل ته سورنګ یا تونل هم وایي چي د کوږک د سورنګ لمبایي یا اوږد والی ۳.۹۱۲ کیلومیتره یا ۲.۴۱۵ میله ده شالاباغ د سمندر د سطحې څخه ۵۳۹۴ فته لوړ دی د دغه ټنډېل په جوړولو کي اته سوه مزدوران مړه سوي دي او په تعمیر کي یې اووه نیوي لکه څلور شپېته زره څلور سوه او ښپږ ویښت خښتي کارول سوي دي هم د دي کوږک د سورنګ عکس د پاکستان د پنځه روپی په کرنسي باندي په ۱۹۷۶ کي هم چاپ سوی ؤ چي وروسته ختم شو وایي چي د تونل کار په ۱۸۹۱ کي پای ته رسیدلی ؤ او داسي نور قاضي بابا د دغۀ ټنډېل په اړه وایي

" په مکه کي لاد دوی تصویر چلیږي کوږک مړکو کندهار له پرېکړی غوټ
ما لاهلته د قــــرآن کهي مـــنله تر کوږک نا ممکن غـــره ووت ټنډېل (6)

**کچارۍ**:- یو وخت چي مخصوص عدالتونه نه ول نو د خلګو پرېکړي به په کچارۍ کي سره کېدلې په افغانستان کي کچارۍ ته علاقه داري وایي قاضي بابا پر کچارۍ هم ډېر رد کړی دی موصوف وایي پکارده چي پښتانه مسلمانان په کچارۍ کي پرېکړي ونه کړي بلکه خپلي شخړي قرآن او حدیث ته یوسي دی فرمایي

" ښځي زموږ وینی د دوی په کچارۍ کي د مـېړه سره دعـــوه ده د طلاق
خان بهادر یا د نواب لقب پر کشـــېږدي نو دده ســره مـلا وتړي فســـاق

کچـــارۍ د ګــوره ګانو نږومــــه زه خو نه وینم تـــردې جهاد بهتر بل " (7)

**مېز او کرسۍ**:-

" خمیره د فرنګیانو ورســره ده که دده سره ډوډی خوړه پر مېز
پرېږدی کټ مېز ؤ کرسۍ ګرد وه نســـی د دیـــن رسی ګرد " (8)

اوس راګرځو چې قاضي ملاعبدالسلام عشېزي په خپله شاعري کښې د سامراجې دورې پر علامتونو څه ډول نيوکې کړې دي. په دې علامتونو کښې يو تار دی. د ليري خبر رسولو آله (اوزار) هم وايي تار ورکول خبر ورکولو ته وئيل کيږي.

قاضي ملا عبدالسلام چې د سامراجي علامتونو څخه يوعلامت "تار" په خپله شاعري کښې ياد کړئ دی. تار هم يو له هغو وسيلو څخه ؤ چې د انګليسي سرکار پر سهېلي پښتونخوا کښې د پېغام رسولو دپاره کارولی. د پېغام رسولو دغه ډول په نړۍ کښې مروجه ؤ ځکه دلته هم له دې څخه کار اخيستل کېدلی. ملا عبدالسلام عشېزی وائي:

" خانه ښه فکر د ځانه سره وکړه ته د حق لحاظ کوې که ده سرکار
که ايمان نه خرڅوی پر کـافرانو مېل مه کوی د کوټي د بـــازار
نصارا خپل سلطنت ټنګوي وروڼو نه ګاډی ستاسي لپاره ده نه تــار "(9)

د بابا له دې شعر څخه څرګندېږي چې ده و خپل اولس ته خبرداری ورکړی چې د سرکار، يعني د هغه وخت سامراجې قابض حکمران او سرکار، د دوی د ګټې کارونه نه کوي بلکې په کوم څه کښې چې د دوی ګټه وي هغه کوي. مثلاً د انصاف نظام په ټولنه کښې تر ټولو لوی رول لوبوي خو د سامراجي نظام د انصاف تله يواځې دا وه چې چا به د ده ډول ټکولی هغه به پر انصاف بلل کېدلی. که هر چا د ده له نظام سره اتفاق نه کولی او د ده پر پاليسيانو باندي تنقيد کولی هغه د دوی د سترګو خار بلل کېدلی، په يوه يا بله مقدمه کښې به يې په تکليف کولی. د مزاحمت کولو والا به يې له مخه ايستلو له پاره هره جائزه او ناجائزه لار خپلوله.

قاضي عبدالسلام بابا پر دې اساس د سامراج پر نظام نيوکې کړې دي. او د سامراج هره منصوبه يې د اولس د ګټې نه بلکې د ده د ګټې له پاره ګڼلې ده. مګر د دغه شعرونو او نصيحتونو وروسته بابا بېرته بدل سوی او تار ته په لوی مقام قائله سوی دی لکه چې وايي:

"کوم هنر لرې په څه خانه بهادر سوې نه ګاډی تيارولای سې نه تار ته " (10)

ملا عبدالسلام سره د دې خبرې احساس هم ؤ چې دی تر خپله وسه اولس ته سمه لار ورپه ګوته کړي. و اولس ګمراه نه کړي. په تاريخ کښې د لارښودانو او عالمانو له خوا ځيني داسي پرېکړې شوي دي چې اولس يې د ناسمو پرېکړو له سوبه ډېره شاته پاته شوی دی. مثلاً د جديدي مشينرۍ پر ضد پرېکړو له سوبه مسلمانان شاته پاته شوي دي. خو قاضي بابا ته دا ښه معلومه وه چې که چيري زه داسي وکړم، په ضد کښې د دې غندنه وکړم د دې پايله به سمه نه وي او اولس ته يې ارو مرو زيان رسيږي. دغه ډول قاضي بابا په شاعرۍ کښې راوړل شوې دي، دې ته راګرځو.

**ريډيو** :- چي کندهاريان ورونه يې راديو بولي د سهيلي پښتونخوا پښتانه ورته ريډيو وايي په خپله قاضي بابا ورته د ريډو نوم غوره کړی دی د سامراج يا ښکېلاک په علامتونو کي ريډيو هغه علامت

دی چي سلام بابا هم زيات ياد کړی او هم يې زيات غندلی دی هسي څۀ که ټيليفون په امريکا کي په ۱۸۷۹ زيږ ديږ کي ګراهم بېل پيدا کړی دی نو تلويزيون بيا په سکاټلېنډ کي جان لويي بېرډ په ۱۹۲۶ کي ايجاد کړی دی داغه رنګه خوردبين په هالېنډ کي په ۱۵۵۰ کي منځ ته راغلی دی داغه ډول اېټم بم په ۱۹۴۵ کي په امريکا کي اوپن هيمر په وجود کي راوستلی دی لاؤډ سپيکر په ۱۹۲۴ چور لکه په ۱۹۳۹ الوتکه په ۱۹۰۳ ريډار په ۱۹۲۲ رېلوې انجل په ۱۸۲۹ ټيليګراف په ۱۸۹۵ ټانګ يا شوبله په ۱۹۱۴ فوټوګرافي په ۱۸۲۶ ښيښه په ۱۹۰۹ موټر په ۱۸۷۶ کاغذ په ۱۸۸۴ ربړ په ۱۸۴۱ موټر سايکل په ۱۸۸۴-۸۵ په جرمني کي پرنټنګ پرېس په ۱۴۵۰ او بلپ په ۱۸۷۹ کي منځ ته راغلي دي دغسي د نولسيمي زېږدي په پای کي د برقي مقناطيسي موجونو د پيداکېدو په وجه آواز او تصوير د رڼا په رفتار تر يوځای او بل ځای پوري منتقل سوي يا رسېدلي دي په ۱۹۰۶ زېږدي په لومړي وار انساني اواز د برقي مقناطيسي موجونو يا لهرونو په زريه نشر ته سپارل سوی دی او دغه لهرونه بېرته په آواز باندي د بدلېدو لپاره کومه آله استعمال سوې ده دې ته يې د رېډيو نوم ورکړ د رېډيو جوړونکی سائنسدان مارکوني دی د رېډيو سره سره د ټيلي ګراف يا تار را منځ ته کونکی هم مارکوني دی د مارکوني رېډيو يوه داسي آله يا اوزار دی چي کابو په سلو کي د اتيا خلګو په کورو کي شتون لري او دا د خبرونو هغه زريه ده چي زيات خلګ يې کاروي قاضي ملا عبدالسلام اشېزي د رېډيو مخالفت هم په دغه وجه کړی دی چي ده رېډيو ته د فرنګي د حکومت د رسنی يا مېډيا په نظر کتل راسئ چي پخپله سوسن چمن پاڼه په پاڼه وګورو او ولولو چي قاضي بابا رېډيو ته په څه نظر قائله دی لکه چي وايي:

"ؤس په هر دننه کورکي ريډو غاپي ګڼ جهال وله پر ټول وي يا خانخېل
قبايح عبالسلامه په مابښام ويني د ريډو مسخرې نه دي زما بدلي

د قرآن پر ځای اخبار يا ريډو اروؤ زړونه وخوړو وينو لاندي در زنګ سو
فلسفه د ترسا ډکه ده د کفر نا خبره غريبانو له ګړنګ سو

د لندنه ريډو دلته راته غاپي زما ويخ نيولي مار ته وار ختاسو
خوارق انګريزي رانيول جهالو د غېرته سه لاس پرېولو عامو خاصو" (11)

"ماږه خوري خاوري ايرې ګرد ريډو غاپي مسخرې ګرد

د ريډو اورو غفاوي اسماني خبري راوي
د ريډو په انګولاوي نن راووتې بلاوي "(12)

په سوسن چمن (لومړی او دوئم ټوک ) کي او دغسي په طلب مذهب (لومړي او دوئم ټؤک) کي خو قاضي سلام بابا په سلونو ځایه د رېډیو او داسي د ساز مخالفت کړی دی مګر په زردانه در کي نه یوائي دا چي د رېډیو ارزښت په پوره ټوګه مني بلکې دا لاهم وایي چي مسلمانان باید د دښمن د مقابلې لپاره ښه جهازونه ، موټران ، ګاډي ، توپ او اېټم بمان تیار کړي او پټلون يې هم سم یاد کړی دی لکه چي وایي:

" ریډیو جوړه کړه هر ساز هم — ټینګ موټر ګاډی جهاز هم
توپ اېټم بمان تیار کړه — ځان تر هغه ملت جار کړه
چي قرآن پر نازل سو — ځله ښېل حق ؤ باطل سو
که اسلام پالې خو ښه دی — پټلون دوني عیب نه دی " (13)

**رېلوې** :- رېلوې یا د رېلوې نظام اروپا ته ، امریکا او اسیا ته کله راغلی ؟ یا داچي فرنګیانو دغه رېلوې نا وېشلي هندوستان ته کله معریفي کړه ؟ زه به دلته تر دغو اوږدو بحثونو تېر سم دلته به زه یوائي پردې باندي خبره وکړم چي رېل سهیلي پښتونخوا یا بلوچستان ته کله راغلی ؟ در محمد کاسی صاحب د رېل په حقله لیکي:

" د انګرېزانو و افغانستان ته په دومره فوځي قوت تګ نه خو د شاه شجاع لپاره ؤ او نه د افغانستان د میني لپاره و بلکې دوی د شاه شجاع په بهانه او نامه باندي په افغانستان باندي د تل لپاره قبضه کول غوښت نو د استعماري موخو په نیت دوی له جېکب آباد څخه تر کندهاره پوري رېلوې لائن او سړک جوړ کړی دا ډول دوی د خپلو فوځي مقاصدو لپاره اسانتیاوي پیدا کړې کله چي انګرېزانو له جېکب آباد څخه د کندهار وخواته د رېلوې نظام جوړېدل پېل کړل نو د بولان درې ډېرینه ، تنګه او غریبزه لاړ ددې ماهیرینو لپاره ترټولو سخت چېلنج سو دوی له سیوی څخه تر کوټې پوره ۱۶۰ کیلومتره رېلوې ټریک له کال ۱۹۸۴ څخه تر ۱۹۹۴ پوري په لس کلو کي پوره کړ دا ټول رېلوې لائن برطانوي حکومت تش د فوځي مقاصدو لپاره جوړ کړ چي د دوی د طویل المیعاد فوځي تګلاري او دفاعي نظام لپاره ګټهور ثابت سو په دې رېلوې لائن باندي د کوږک شانداره سرنګ هم سته چي له شېله باغ (شالاباغ) څخه د چمن وخواته وزي او د پاکستان د پنځه روپو په نوټ باندي ددې ټنډېل عکس لیدل کېدلای سي " (14)

بیا په دې لیکنه کي لیکوال تر غازي عبدالله خانه تر خان شهید عبدالصمد خانه او په پای کي تر قاضي ملا عبالسلامه پوري رسېدلی دی بیا یې تر سلام بابا پوري دا کیسه هم کړې ده چي ملا عبدالسلام تر پایه پوري په رېل ګاډي کي سفر ونه کړ ولي چي ده دا د انګرېز سامراج د قبضه ګیری علامت ګڼی او داسي نور " بابا د رېل په حقله وایي

" پښتانه د مــخه ټوله یـــو بـــدن ؤ هر قریب د بل په درِد باندي خوږمن ؤ
انګرېزي مدرســـې نه پېژاندې خلـګو نه ګاډی نه یو څرک نـه دا چـــمن ؤ

حاصلات مو ځي ترسا له په ګاډی کي شامه ستړي مفلس پاته بې نـــوا یو

نصارا خپل سلطنت ټنګـــوي ورونړ نه ګاډی ستاســي د پاره ده نـــه تار

په ګاډی کي د خبیث عبدالســـــلامه! پیاده ځۀ حج له تصویر مه وړه ټـکټ
په مکه کي لاد دوی تصـویر چلیږي کوږک مړکو کندهار له پرېکړی غوټ (15)

**اخبار**:- لکه څنګه چه تار ، رېلوې او رېډیو د فرنګي د حکومت اوزار ول یا د دوی د سامراجي حکومت د ټینګېدو نښانونه ول دغسي اخبار هم بابا په داغه وجه غندلې دی چي په کي هم د فرنګیانو پروپاګند کېدی د دوی د حکومت مجلس به پکي روان ؤ ورنه پر خپل خپل ځای نه تار بد دی نه رېډیو غلته آله ده نه رېلوې بې ګټې وسیله ده بلکې د اخبار یا ورځپاني په شمول دغه ټول اوزار د ژوند اوزار دي چي د کله څخه دغه اوزار لکه رېډیو موټر ، مشین ، رېلوې ، ټیلیفون او نور زموږ هیواد ته راغلل نو زموږ ژوند ورسره سوکاله سودغه ګټورو اوزارو اولس ته ډېره ګټه ورکړه ژوند یې اسانه کړ دغه اوزارو په ژوند کي ډیر پرمختګ راوستی د ببلګي په ډول که موټر نه وای موږ به سفر څنګه کولای؟ که پرېس نه وای کتاب به نه وای که پایه نه وای نو به څه وای ؟؟؟
دلته هغه اشعار را نقلوم چي بابا اخبار پکي یاد کړی دی یا یې سخت رد کړی لکه چي وایي

" قرآني حقایق ولي نه رابـــاسو د کافر مشرک فاجر دوړه اخبار سي
د نبیانو ویل یو او بل ته نه وړو د نامي مشرک خږسکي اخــبار سي
مشتهر چي اشتهار سحار راباسي د درواغو باندي واچـوي سپـېرلون " (16)

لېکن بل ځای یې بیا هم هغه اخبار چي پښـــتون نومېدی باچاخان رح او دده زړه ورو ملګرو (خدایي خدمتګارانو) چلوی هغه یې بیا په داسي ټکو ستایلی:

" خان هم یو د زمانې خوشحال ختـک دی و هندي کفر ته وزي په ناتار
د ملت خدمت کـــوي ټینګ په مېـــرانه شهیدان مجاهدان بخښي غفار
د قرآن په ترجمه یې عامـــه پوه کړو مجاهدو چلاوی پښتون اخبار (17)

په لنډو ټکو کښې به ووایو چې ملا عبدالسلام په داسي وخت کښې د اولس ذهني روزنه کړې ده چې له یوې خوا په اولس کښې بې سوادي زیاته ؤه له بلې خوا د سامراج پنجې ښخې وې. په بې سواده ورځ کښې اولس ډېر په اسانۍ سره ګمراه کېدلای شي. نو قاضي عبدالسلام عشېزي چې کومه

مبارزه کړې ده، او چې څومره دی په کښې بریالی شوی دی، موږ وئیلای شو چې په یکړ سر یې د یو لښکر کار تر سره کړې دی.

د پېرنګي د واکمنۍ په ضد یې د شعر په خوږه ژبه د اولس فکري روزنه کړې ده او اولس یې په دې قانع کړې دی چې د سامراج په رېلوې، تار ، اخبار او داسي نورو وسیلو، دې وطن ته د راوړلو مرام یواځې د هغوی خپله ګټه ده. د اولس له پاره یې ګټه هغه وخت شته چې سامراج له دې سیمي څخه ولاړ شي. دا هغه انقلابي فکر ؤ چې قاضي بابا د خپل قلم له لاري د شعر په ژبه د اولس په وینه کښې ورګډ کړې ؤ. او هغه خانانو، ملکانو او لاړښودانو ته یې هم وئیلي چې د قابض او سامراجي قوت په ضد دي و درېږي. پر ځای د دې چې دوی د سامراج ولګې ټینګوي او د اولس پر ضد پرېکړو کښې د سامراج مرسته کوي، له مظلوم اولس سره دي و درېږي.

## حوالې

(1) عشېزی، ملا عبدالسلام ، طلب مذهب دوئم ټوک ، یونائیټډ پرېس کوئټه ، مخ ۴۷۶
(2) عشېزی، ملاعبالسلام،سوسن چمن دوئم ټوک ، اسلامیه پریس کوئټه ، ۷۴
(3) عشېزی، ملا عبدالسلام، سوسن چمن دوئم ټوک ، اسلامیه پریس کوئټه ، مخ۲۲۰،۱۸۴
(24) عشېزی ، ملاعبدالسلام، زردانه در ، اشاعت ندارت، مخ ۲۸
(5) عشېزی،ملاعبدالسلام،سوسن چمن دوئم ټوک ، اسلامیه پریس کوئټه ، مخ ۱۱۳،۱۱۲
(6) همدغه اثر ، مخ ۱۲۵،۲۴
(7) عشېزی،ملاعبدالسلام،سوسن چمن دوئم ټوک ، اسلامیه پریس کوئټه ، ۲۲۹،۱۰۷
(8) همدغه اثر ، مخ ۷۹
(9) عشېزی،ملا عبدالسلام، سوسن چمن،دویم ټوک،(اشاعت ندارد) مخ ۶۷
(10) عشېزی ، ملاعبدالسلام ، سوسن چمن ، دوئم ټوک ، اسلامیه پریس کوئټه ، مخ ۲۳۶
(11) همدغه اثر ، ۲۸۱.۱۶۰،۱۶۷،۱۲۵
(12) عشېزی، ملاعبدالسلام ، طلب مذهب ، دویم ټوک ، مخ ۷۸،۷۷،۶۳
(13) عشېزی ، ملاعبدالسلام، زردانه در ، اشاعت ندارت، مخ ۲۸
(14)کاسی، درمحمد ، د کوږک سورنګ،مشموله، درې میاشتنی لیکني مخ ۵۵-۶۰
(15) عشېزی، ملاعبدالسلام، سوسن چمن دوئم ټوک، اسلامیه پریس کوئټه، مخ ۶۷،۶۸،۱۵۷،۱۷۳،
(16) همدغه اثر ، مخ ۲۶۹،۱۴۶
(17) همدغه اثر ، مخ ۶۷